مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۳/۲۴

# ربــه پــه داســې نـوي کـال بـانـدې مـو و نـازوه

پخپل جلال او خپل جمال باندې مو و نازوه
د ګل په مخ کې پـه وصال باندې مو و نازوه

چـې مې بـربـنـډ لکه چمن نوې جـامې پیدا کړي
ربــه پــه داســې نـوي کـال بـانـدې مـو و نـازوه

چې پـه خـوړه ژبـه فـاسق تـه قـنـاعـت ورکړي
د منطـقـي مـلا کـمـال بـانـدې مو ونــازوه

چـې فلسفي ورتـه حیران ګوته پر غاښ پاتې شي
د شیخ پـه داسـې استـدلال بـانـدې مـو ونـازوه

چـې د نـوروز د ګل وږمه پکې کـافـره. نـه وي
د پسرلـي داسـي شـمـال بـانـدې مـو ونـازوه

چې ارزښتونـه د بـاور پکې بې دینه نـشـي
داسي ذهنونو داسي خيال باندې مو ونازوه




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ